## د تنظیم شوي تفریحی فعالیتونو لپاره بلا عوض مرستې

د Nordre Follo د ښاروالۍ اداره غواړی چې نور ماشومان او ځوانان په با قاعده تنظیم شوي تفریحي فعالیتونو کې برخه واخلي. ددې په خاطر د ښاروالۍ اداري یوه داسې پروژه رامنځته کړې چې کلوپونه، ټولنې او د ښاروالۍ کارکوونکی کولای شي ورته درخواست وکړي.

### تاسو د څه لپاره مرسته ترلاسه کولای شئ؟

تاسو د ثابت، او باقاعده تنظیم شوي فعالیتونو اړوند لګښتونو لپاره ملاتړ ترلاسه کولای شئ. د غړیتوب فیس، لایسنسونه، د ګډون / فعالیت فیس، او د یو فعالیت اړوند نور لګښتونه یې مثالونه دي. د ښاروالۍ اداره د انفرادي فعالیتونو لپاره او د جیم غړیتوب فیس لپاره مرسته نه کوي.

### څوک کولای شي مرسته تر لاسه کړي؟

ماشومان او ځوانان چې د 6-18 کالونو ترمینځ عمرونه ولري او د Nordre Follo ښاروالۍ هستوګن وي او په منظم تفریحی فعالیت کې د ګډون لپاره مالی توان ونلري کولای شي مرسته ترلاسه کړي. مونږ هر یو درخواست په انفرادي توګه ارزوو او هغه پیسې چې درخواست ورته شوی په بشپړه توګه او یا جزئی ډول سره ورکوو.

### څوک د (یو ماشوم یا ځوان په نمایندګۍ) سره درخواست ورکولای شي؟

کورنۍ او افراد خپله د یو بلا عوض مرستی لپاره درخواست نشي ورکولی; بلکه هغوي باید د ښاروالۍ یو کارکوونکي یا هغه شخص / ارګان سره په تماس شي چې دا فعالیت وړاندې کوي. دا شخص به و ارزوي چې آیا دا ماشوم د یو بلاعوض مرستې مستحق دې او که نه.

ددې لپاره چې د یو فعالیت لپاره ملاتړ ترلاسه کړي، هغه نفر (افراد) چې ددې فعالیت لپاره مسئولیت لري باید د غیر انتفاعی موسساتو په راجستر کې ثبت شوي وي. مونږ د ښاروالۍ د فعالیتونو لپاره لکه د کلتوري ښوونځیو او د ځوانانو کلوپونو لپاره هم ملاتړ کوو.

په درخواست کې باید د ماشوم / ځوان نوم، د هغوی د زیږون نېټه، او د هغوي د مور او پلار یا قانونی سرپرست لخوا د 15 څخه د ټیټ عمر ماشومانو رضایت شامل وی.

### درخواست یا غوښتنلیك

د فعالیت تنظیموونکی یا د ښاروالۍ یو کارکوونکی د غوښتنلیك فورمه بشپړوي او غوښتنلیك په الکترونیکی ډول د ښاروالی اداري ته وړاندې کوی. یو جلا درخواست یا غوښتنلیک باید د هر ماشوم لپاره ورکړل شي.  په درخواستونو کې باید د متعدد فعالیتونو یا سفرونو لپاره لګښتونه شامل نه وي. د درخواستونو لپاره کوم ضرب الاجل نشته.

[د درخواست یا غوښتنلیك فورمه]

### څوک درخواست یا غوښتنلیکونه طی مراحل کوي؟

د تتصدی د عامې روغتیا، لوبې یا سپورت او د باندې فعالیتونه د بلا عوض مرستی د پروګرام د لارښود سره سم غوښتنلیکونه ترلاسه او ارزوي. مونږ ټول شخصی معلومات د اجرا ړو لارښوونو سره سم طی مراحل کوو.

### د درخواست یا غوښتنلیك ځواب

په عادي ډول سره به درخواست ورکوونکي په ظرف د لسو ورځو کې یو ځواب ترلاسه کړي. د ښاروالۍ اداره به مرسته شوی مبلغ شخص یا هغه ارګان ته چې فعالیت وړاندې کوي ورکړي.

### که چیرې تاسو پوښتنې لرئ یا درخواست ورکولو کې مرستې ته اړتیا لرئ

د عامې روغتیا همغږی کوونکی Heidi Berentsen سره اړیکه ونیسئ
ټیلیفون: (47+) 90 10 27 08